# د والدینو لاربنود: له ښوونځي سره همکاري

**ژر او دوامداره اړیکه:**

د ښوونځي د ښه راغلاست کتابچې او خبرپاڼې وکاروئ، او که اړتیا وي، د ژباړې غوښتنه وکړئ تر څو د ښوونځي قوانین (لکه چلند او یونیفورم) ښه درک کړئ.له ښوونځي څخه وغواړئ چې یو مشخص کس درته وټاکي چې ورسره اړیکه ونیسئ (لکه سرښوونکی یا د ټولګي مسؤل)
.

**ژباړن وکاروئ:**

په مهمو غونډو کې پر ماشومانو تکیه مه کوئ. د مسلکي ژباړن غوښتنه وکړئ.

**سیستم زده کړئ:**

د ښوونځي لیدنه وغواړئ، د ټولنیزو ډلو په اړه معلومات واخلئ، او د هغو اپلیکیشنونو او ویبپاڼو په کارولو کې مرسته وغواړئ چې ښوونځی یې کاروي.

**اړیکې جوړې کړئ:**

له ښوونکو او نورو والدینو سره پېژندګلوي وکړئ تر څو د ماشوم لپاره یو ثابت او خوندي چاپېریال رامنځته شي.

**بهرنۍ مرسته ولټوئ:**

د نورو مرستو لپاره له خیریه موسسو سره اړیکه ونیسئ لکه INTERNATIONAL RESCUE COMMITTEE، REFUGEE EDUCATION UK، یا REFUGEE COUNCIL — دوی کولی شي تاسو ته یا ستاسو ماشوم ته مرسته وکړي

**د ټراما (روحي ټکان) په اړه پوهه ولرئ:**

پوه شئ چې ستاسو ماشوم ممکن د "چوپتیا دوره" ته اړتیا ولري یا یې چلند بدل شي. له ښوونځي څخه د دې په اړه د ملاتړ غوښتنه وکړئ.